ا. پروفیسور محمد ظریف "امین یار" ۲۰۱۵/۰۷/۰۵

# آیا د اپوزیسیون ایجاد د افغانستان لپاره ګټور دئ ؟

Is the establishment of political opposition in the favor of Afghanistan?

## سریزه (Preface):

**په ډموکراتیکي حکومتوالي (Democratic Governance) کي څلور اساسي عناصر باید شتون ولري( حکومت، خصوصي سکټور، مدنی ټولنه او سیاسي اپوزیسیون). لومړئ حکومت (Government) ده چي د خصوصي سکټور، مدني ټولني او سیاسي اپوزیسیون لپاره ښه او مناسبه محیط (Conducive Environment)آماده کوي، دوهم خصوصي سکټور ده چي د خلکو لپاره اشتغال (Employment) خلق کوي او د اشتغال کندو په نوم هم یادیږي، دریم مدني ټولنه (Civil Society) ده چي د خلکو او حکومت تر منځ د ارتباطي پل په توګه کار کوي او د خلکو خبرې حکومت ته رسوي او د اړتیا په وخت کي مناسبه فشارونه پر حکومت اچوي. څلورم سیاسی اپوزیسیون (Political Opposition) ده چي د حاکم ګوند څخه وروسته په هیواد کي تر ټولو اغیزناکه قوا ګڼل کیږي. د اپوزیسیون موخه په حکومت باندې نظارت او د اصلاحي طرحو پلي کول دي چي نهایی هدف یې د حاکم ګوند څخه سیاسي قدرت په مسالمت آمیزه توګه لاسته راوړل دي. لکه څنګه چي پوهیږئ افغانستان هم ډموکراتیک نظام لري او د لویدیځ څخه کاپي شوئ سیاسي نظام عملي کوي نو پدې اساس د سیاسي اپوزیسیون شتون یا نه شتون موضوع د تود بحث وړ ده اما مخکې له دې چه دا ووایو چي د سیاسي اپوزیسیون ایجاد به د افغانستان اوسني حکومت لپاره ښه وي که بد د موضوع په اړوند ځیني اساسي مفاهیمو باندي باید پوه شو.**

## اپوزیسیون (Opposition) څه ته وایی؟

په سیاسي فرهنګ کي اپوزیسیون د ضدیت، مخالفت او مقابلې په معنا دئ او په وسیع مفهوم کي هغه هلي ځلي او کوښښونو او مخالفت ته وویل کیږي چي سیاسي ګوندونه، اتحادیې او نورې هلقي یې د ځانګړي سیاسي، اقتصادی او ټولنیز موخو ته د تحقق لپاره موجوده نظام سره کوي. د نړئ سیاسی او حکومتی نظامونو کي دوه ډوله اپوزیسیون مطرح دي:

1. **قانونی یا پارلمانی اپوزیسیون**
2. **غیر قانونی اپوزیسیون**

1. قانوني یا پارلماني اپوزیسیون (Legal or Parliamentary Opposition): په هغه نظامونو کي چي پارلماني حکومت لري او ډموکراتیک دي د اساسی قانون سوري لاندې اپوزیسیون په رسمیت پیژندل کیږي او په پارلمان کي داسي ډله جوړیږي چي د حکومت څخه یا خو هیڅ ملاتړ نه کوي یا هم ملاتړ کوي اما په اصلاحاتو باندې تل تاکید کوي او حکومت باندې لازمه فشارونه د اصلاحاتو را منځته کیدلو لپاره اچوي. دغه ډله کولای شي چي د پارلمان په ناستو کي د اساسي قانون (Constitution Law) د شرایطو سره سم حکومت باندې نیغ نظارت ولري او عمومي افکار د حکومت د کړنو څخه باخبره کړي. دغه ډول اپوزیسیون په سنتي لیبرال (Classical Liberal) هیوادونو کي لکه بریتانیا، فرانسه او دنمارک وغیره چي څو حزبي سیستم لري لیدل کیږي. مثلآ انګلستان کي د ویست مینسټر(West Minister) په مانئ کي سیاسی اقلیتونه او اکثریتونه مخامخ کیږي او بیا د اپوزیسون مشر پوښتني کوي او لومړئ وزیر ورته ځوابونه ورکوي. دا شاید په نړئ کي د اپوزیسیون تر ټولو څخه بهترینه بیلګه وي چي حکومت او اپوزیسیون دواړه په یوې غونډې کي د اصلاحاتو او نورو مسایلو په اړوند آزاد بحث کوي. پدغسې مجلس کي ټول سیاسی اکثریت او اقلیت دواړه متحده کیږي او په علني او روڼ میکانیزم لاندې د هیواد په بیلابیلو اړوندو مسایلو باندې مباحثه کوي. په دې غونډې کي د کابیني په راس کي لومړئ وزیر د اکثریتو په استازیتوب او د مخالف ګوند مشر د اپوزیسیون د استازي په توګه مطرح کیږي. اما دا باید په یاد ولرو چي په نورو هیوادونو کي د حکومت او



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

اپوزیسیون موقف په داسي مسلکي او شفافه توګه نه مدیریت کیږي. دا خو د ویست مینستر مثال وو چې د نړۍ تر ټولو څخه مشهور سیاسي کور دئ. اما دا باید ومنو چې مخالفین د هر حکومت لاینفک جز دي او هیڅ حکومت په نړۍ کې نشته چې ټول ملت خوشحاله وساتلئ شي نو د مخالفینو ظهور په معاصره نظامونو کې معموله موضوع ده. دا د یاد وړ ده چې یواځې مخالفت اپوزیسیون ته شکل نه ورکوي بلکې د اپوزیسیون تشکیل لپاره ډیرنور فاکتورهم لازم دي.

2. **غیر قانونی اپوزیسیون (Illegal Opposition):** هغه حکومتي نظامونه چې مبتنی په دیکتاتوري (Dictatorship)، مرکزي او تحزب تښتیدني دي، اپوزیسیون په اساسي قانون کې ځاي نلري او د یو قانوني او رسمي بنسټ په توګه نه پیژندل کیږي. نو د په دغه نظامونو کې د اپوزیسیون هلي ځلي هم ډیرې ګټورې پایلې نلري او د اعتراضاتو پایله یې معمولاً په زندانونو او شکنجو باندې پای ته رسیږي.

له بل طرفه سازمان موندنه په رسمي او غیر رسمي توګه د اپوزیسیون جوړوني لپاره اساسي شرط بلل کیږي. نو په دغه اساس اپوزیسیون ته موږ د مخالفینو یو سازمان شوي ډله چې موخه یې د حاکم حکومت څخه حکومت لاسته راوړل دي وویلئ شو. د کلاسیک لاري په مطابق موږ اپوزیسیون په دوه ګروه یعني "وفاداره اپوزیسیون" او " لنډ نظره اپوزیسیون" باندې هم وویشل کیدلای شي.

## اپوزیسیون په بیلا بیلو نظامونو کې (Opposition in Various Systems):

### 1. اپوزیسیون په پارلماني نظام کې(Opposition in Parliamentary System):

لکه څنګه مو چې مخکې اشاره وکړه بریتانیا د نړۍ تر ټولو څخه مشهور اپوزیسیون لرونکي هیواد دئ. لکه څنګه چې تاسي هم پوهیږي د انګلستان نظام پارلماني دئ نوهغه سیاسی مشر چې د ۶۵۰ پارلماني څوکۍ څخه اکثریت وګټي د لومړي وزیر په توګه معرفی کیږي او د دولت غړي هم د ګوندونو د استازو و یا هم د حام پارلمانی ګوندونو څخه ټاکي. په همدغه ترتیب هغه حزب چې د بریالي حزب نه وروسته یې ډیرې څوکۍ ګټلي وي د اپوزیسون مشر په توګه پیژندل کیږي. د اپوزیسیون رهبر یو رسمی سیاسی مقام ګڼل کیږي چې د عمومي خزاني څخه معاش هم ترلاسه کوي. د ۱۹۵۰ کال څخه رادیخوا د "سوریزې کابینه" هم د مخالفو ګوندونو د استازو څخه تشکیل کیږي تر څو د دولت اجرایی روند منظم کړي.
په دې نظام کې حاکم ګوند د خپل سیاست مخکې وړلو لپاره د اپوزیسیون آندونو ته اړتیا نلري او په ټولو سیاسی چارو کې (د تقنین او د اجرا مرحلې) کې د بشپړ قدرت څخه برخه مند دئ. یعنې د قانون جوړني او نورو مسایلو کې د اپوزیسیون ګډون او فعالي ونډې ته کوم حقوقی ضرورت نشته او دولت د سیاسی کړنو په هکله خورا اختیار لري. نو اپوزیسون د خپل فعالیتونه د خپلو سیاسي موخو پر اساس اجرا کوي او ټول ټاکنو ته منتظر وي او هڅه یې دا وي چې یکې حاکم ګوند ساقط شي او دوي قدرت ته ورسیږي.
آلمان د پارلمان محوره نظام یوه بله بیلګه ده. د انګلستان برخلاف آلمان کې متعدد امکانات د مستقیمي ډموکراسۍ لپاره په فدرال کچې کې شتون لري او همدغه رنګ د اپوزیسیون قدرت سره ګډون لپاره مهم ساختاري تمهیدونه هم وجود لري. د دغه موضوع پر اساس پارلمان کې اقلیت ګوند ته معنادارسهم په اساسی کمیتو کې ورکول کیږي چې هغوی ته د اساسي قانون اصلاح لپاره (که اړین وي) اجرایي او نظارتی توانایی ورکوی.

### 2. په نیمه ریاستی نظام کې اپوزیسیون (Opposition in Semi-Presidential System):

د فرانسي پنځم جمهوریت او د هغوي نیمه ریاستی نظام اپوزیسیون سره د اړیکو یوه بله بیلګه په ګوته کوي. نیمه ریاستی نظام یو ترکیبی سیاسی ساختار دئ چې په دې نظام کې لومړئ وزیر، کابینه او ولسمشر معنادار سهم لري او موجوده پیچیده ساختارونه د اپوزیسیون د سیاسی ژوند لپاره ښه فضا وړاندي کوي. مثلاً خصوصاً هغه وخت چې یو ګوند د پارلمان اکثریت او بل ګوند د ولسمشر مقام لاسته راوړي. هغه څه چې د فرانسي سیاسی نظام د نورو نظامونو څخه جلا کوي دا ده چې اپوزیسیون پرته له دې چې پارلمان کې لړې څوکۍ لري د ولسمشر لخوا استازیتوب کوي، نو پدې وجه د هیواد لومړئ مقام ته د اپوزیسیون مشر په توګه هم وویل کیږي. دا قابل الذکر ده چې د فرانسي جمهور

---


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیږلو مخکې په خیر و لولئ

رییس دا صلاحیت لري چي د ضرورت په وخت کي پارلمان منحل کي،البته دا باید هیر نکړو چي د هم وسیدلو د قوا تعدد کله نا کله کړکیچونه هم منځته راوړئ شي.

### 3. په ریاستي نظام کي اپوزیسیون (Opposition in Presidential System)

د امریکي متحده ایالتو نظام اپوزیسیون سره د اړیکو یوه نوي ځیره ښکاروي. په دغه نظام کي چي د قوا د تفکیک نظام ورته وویل کیږي، کنګره (Congress) د اپوزیسیون مهمترینه عرضه ځاي ده. د قوا د تفکیک نظام هم د حکومت او اپوزیسیون سره په اړیکو کي ځوریږي . په دې نظام کي ستونزې حله منځته راځي کله چي یو ګوند ولسمشر او دوهم کنګره په اختیار که ونیسي. هغه شرایط چي د ۱۹۴۵ څخه رادیخوا د ۳ څخه ۲ کاري دوره کي شتون درلوده د امریکي د کنګرې قدرت، د اپوزیسیون تشخیص او حاکم ګوند یي مشکل کي مواجه کړیدي او د ګوندونو د پردې شاته معاملو، د سیاسي نظام رونوالئ یي مخدوشه کړي او د امریکي خلک یي په سیاستوالو باندې بې اعتماده کړيدي. دغه وضعیت په ولسي جرګي او مشرانو جرګي کي د ګوندونو فراکسیونونه منځته راوړي چي د جمهور رییس قدرت یي لږ کړئ ده. پدې لحاظ پرته لدې چي کنګره د اپوزیسیون د ظهور ځاي دئ ځیني وختونو کي اپوزیسیون د رییس جمهور څخه ځان قوي احساس کوی او دا کولاي شي چي خلک د رییس جمهور څخه لري کړي ځکه چي د خلکو هیلي او د حکومت واقعیتونه یو بل سره توپیر لري.

### افغان ملي یووالی حکوکت کي د اپوزیسیون اهمیت (The Importance of Opposition for Afghan Unity Government):

د ملی یووالی حکومت لکه څنګه چي تاسي آګاه یاست د اساسي قانون په نقض سره د ۱۳۹۳ کال د ټول ټاکنو کړکیچ ته د پای ټکئ کیښودو لپاره یوه امریکایی طرحه وه چي د جان کیري(متحده ایالتو د بهرنیو چارو وزیر) مستقیمي مداخلي په پایلي که لاسته راغلئ ده. جان کیری (John Kerry) افغانستان ته څو څو ځلي سفر کوي او بالاخره د جان کیري د راتګ په نتیجي کي د افغانسان اساسی قانون نقض شو او بلاخره د ملی یووالی حکومت تشکیل او قدرت دوه سیاسی کمپونو(Camps) په منځ کي د ټولو سیاسی او حقوقي معیارونو خلاف وویشل شو.اما نن کابو ۹ میاشتو په تیریدو سره داسي معالومیږي چي د ملی یووالي حکومت طرحه یوه ناکامه تجربه ده ځکه چي نن د ملی یووالی حکومت کافي بحرانی حالت کي قرار لري او سترو ستونزو سره مخامخ دئ ؛ او داسي وویل کیږي چي تقریباً یو سیاسي انارشیزم (Political Anarchism) طرف روان دئ. د ملی یووالی حکومت د ستونزو په لوی لیست کي یو هم د اپوزیسیون د نه شتون ستونزه ده. ګرچه اپوزیسیون د افغانستان اوسني ډموکراتیک رژیم(د طالبانون رژیم څخه وروسته) کي ډیر ګټور نه دئ ثابت شوئ بیا هم د یوې نظارتي قوا په توګه شتون یي بې ګټي نه دئ. بله خبره داده چي په تیرو ۱۳ کالونو کي شمالي ټلواله هم په قدرت کي وه او هم یي رسمی اپوزیسیون رانیولئ وو چي قطعاً دغه ډول اپوزیسیون د افغانستان لپاره موثري پایلي نه درلودې.

اوس نو چي د ملي یووالی حکومت میکانیزم (Mechanism) لاندې اپوزیسیون څومره ګټور ثابت کیدئ شي دا به وخت ځواب ورکړي اما نه شتون یي اندیښني رامنځته کړيدي. کله نا کله داسي شایعات مخکي کیږي چي ګواکي د مجاهدینو مشران غواړي یو لوی اپوزیسیون تشکیل کړي اما تر اوسه پورې دا خبرې یواځي یوه شایعي تر حدي د منلو وړ دي. پوښتنه داده چي افغان ملی یووایی حکومت به وشي کړئ چي یو ګټور او مضبوط اپوزیسیون تشکیل کړي که نه او بله دا چي دغه اپوزیسیون به د چا په مشرئ لاندې منځته راشي.

سیاسي اپوزیسیونونه د شرایطو تابع دي او مخصوصي ځانګړتیاوې لري. لکه څنګه چي مخکي ورته اشاره شویده اپوزیسیون د سیاسي ګوندونو لخوا یا پارلمان خپله یي تشکیلوي چي رسمي اپوزیسیون ته موږ قانوني اپوزیسیون هم وایو. قانوني یا رسمي اپوزیسیون د مطروحه ملی او نړیوال قوانینو په رڼا کي وړاندې کیږي. دغه ډول اپوزیسیونونه ډموکراتیک نظام لاندې خپل همفکران لاریون ته هڅوي او غواړي چي حکومت مسالمت آمیزه توګه باندې خپل کړي. د دې ترڅنګ یو بل ډول اپوزیسیون چي ورته "مسلح اپوزیسیون" وویل کیږي هم په سیاست کي شتون لري چي بل نوم یي "غیر قانونی اپوزیسیون" هم دئ. د غیر قانوني اپوزیسیون موخه د مهماتو په وسیله د حکومت انهدام ګڼل کیږي. نن په افغانستان کي د غیر قانوني اپوزیسیون ځاي طالبانو او حزب اسلامی (د حکمتیار بلاک) نیولئ دئ. که د افغانستان اوسني وضعیت ته موږ ځیر شو دا تحلیل به ګران نه وي چي نن غیر قانوني اپوزیسیون تر ټولو څخه ډیر د پام وړ اپوزیسیون دئ نو که په صحی توګه او مسالمت آمیزه توګه خپلو هلو ځلو ته ادامه ورکړي د حکومت لپاره موثره ثابتیدلئ شي. اما بیا چي د ټولني واقعیتونو ته ګورو د طالبانو او نورو سیاسي مخالفینو غیر قانوني اپوزیسیون په

دغه شکل کې چې نظامي جګړې باندي بوخت دي د افغانستان لپاره قطعاً ګټوري پايلي نلري او حتا کولای شي چې د هيواد سياسي ثبات ته يو لوئ ګواښ په توګه مطرح شي. چې په دغو کابو ۱۳ کالو کې دغه خبره تجربه شوې هم ده.
د سياسي کارپوهانو په باور په دموکراتيک نظامونو کې اپوزيسيون يو مبرم ضرورت ګڼل کيږي او نه شتون يې نظام ناقض کوي، اما داسي اپوزيسيون بايد تشکيل شي چې د دولت نفوذ پکې احساس نشي او ملي موقف او اجندا (Agenda) ولري ترڅو وتوانيږي حکومت د جدي نظارت لاندې ونيسي او حکومت د ديکتاتوري او خپل خوښي څخه وژغوري.

## په افغانستان کې د اپوزيسيون جوړني حاضري ستونزې (The Barriers of Establishing of Opposition in Afghanistan):

افغانستان کې موږ د اپوزيسيون په نوم ډېر ابتدايي څېرې کې سياسی غير منسجم مخالفت تجربه کړئ دئ اما دغه اپوزيسيونونو دا توان نه درلوده چې حکومت باندې ټينګ نظارت وکړي او حکومت د غلطې لارې نه وژغوري. دا چې مخکنئ اپوزيسيون ولي ميعاری او موثر نه وو ډېر فاکتورونه لري اما يو فاکتور يې د شايستګي نلرل ګڼل کيږي. زما په آند د تيرو اپوزيسيونونو د نابرياليتوب علتونه په لاندې ډول خلاصه کيدلاي شي.

1. **د طالبانو او حزب اسلامی مسلح اپوزيسيون شتون:** تر ټولو څخه مهم عنصر دا وو چې طالبانو او نورو سياسي مخالفينو لکه د حکمتيار ډلي د غير قانوني اپوزيسيون ځائ نيولاۍ وو او حکومت د موجوده وضعيت سره سم مجبور وو چې د سياسي اپوزيسيون څخه دغو ډلو ټپلو ته ډير اهميت ورکوو.
2. **د سياسی ستراتيژی نه شتون:** د يوې معياري او د قبول وړ سياسی ستراتيژی نه شتون مثلاً د اپوزيسيون مشرانو د پارلماني نظام رامنځته کول غوښتل اما کومه مشخصه ستراتيژي د تغيير لپاره يې نه وه مخکې کړي. نو ځکه اپوزيسيون يو غير منسجم بنسټ باندې مبدل شوئ وو او پايلې يې بنې نه وې.
3. **اپوزيسيون موقف ته اهميت نه ورکول:** د اپوزيسيون موقف سره مينه نه درلودل او د اصلاح لپاره د ارادې نه شتون هم يو د اساسي فاکتورونو څخه دی چې اپوزيسيون يې په افغانستان کې په يوې ناکامه تجربې مبدل کړئ ده. مثلاً داسي معلوم کيده چې مخکنئ اپوزيسيون د اصلاح لپاره اراده نه درلوده او يواځنئ موخه يې د قدرت لاسته راوړل وو.
4. **د ګټو تناقض:** مخکني اپوزيسيون حکومت سره ترلي منافع درلودې نو هيڅ کله يې نه غوښتل چې حکومت واقعاً نظارت لاندې راولي او د کړنو راپور يې ملت ته په شفافه توګه وړاندې کړي او خپل رسالت ادا کړي.
5. **د فعال ارګانيک ساختارونو او ګوندونو نه شتون:** د ارګانيک ساختارونو او ګوندونو نه شتون اپوزيسيون يې "کس محوره" باندې مبدل کړئ وو چې طبعاً بې مفهومه او بې پايلې ښکاريده.
6. **د ايتلافونو او ګوندونو متزلزلې ګټې او موقفونه:** هغه ګوندونه او ايتلافونو چې د اپوزيسيون په چوکات کې جوړ شول ډير ژر د يو بل څخه جدا شول ځکه چې دوی د سياست لپاره کوم ځانګړي آيدیالوژی نه درلوده او منافع يې متغييری وې.
7. **نا ظرفيتي:** د پخواني اپوزيسيون مشر يو زحمت کشه او فعال سياسي انسان نه وو او هيڅکله هم ونتوانيده چې خپل وخت د اپوزيسيون د مشر په عنوان د حکومت د کړنو د نظارت باندې ولګوي. له بل طرفه داسي وويل کيږي چې هغه ظرفيت چې بايد د اپوزيسيون مشر ولري او هغه جوړښتونه چې بايد اپوزيسيون کې موجود وي هغه په پخواني اپوزيسيون کې نه ښکاريده.
8. **د مناسبه حکومتی محيط نه جوړول :** د ښاغلي کرزي حکومت اپوزيسيون ته هغه مناسبه محيط چې بايد جوړ شوئ وای جوړ يې نشوه کړئ او همدارنګه هغه موقف چې بايد په يو دموکراتيک نظام کې اپوزيسون ته ورکړل شي ، ونتوانيده چې ورېي کړي نو اپوزيسيون ته هغه اهميت چې بايد ورکول شوئ وو هغه اپوزيسيون ته ور نکړئ شوه ، نو دا هم يو علت وو چې اپوزيسيون ونه ځليده.
9. **مخفی اجندا:** داسي هم وويل کيږي چې پخوانئ اپوزيسيون يو سمبولک بنسټ وو او ځانته مخفي اجندا درلوده. کارپوهان داسي وايي چې د ۹۳ انتخاباتو کرکيچن کيدل د پخواني اپوزيسيون د مخفی اجندا يوه برخه وه.
10. **د افغانستان د نه جوړلو اراده:** که په افغانستان کې تيرو ۱۳ کالو حکومتوالي ته يوه لنډه کتنه وکړو دا به په ډير آسانئ سره په ډاګه شي چې امريکې د افغانستان د جوړولو اراده نه درلوده او تل يې لنډ مهاله طرحو



افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

باندي تاکيد کړئ او سياسي حضور يې دوه معياره ثابت شوئ ، نو سياسي اپوزيسيون د جوړښت اراده هم امريکي سره نه وو او نه يې پرې تاکيد کړئ ده.

## کوم ډول اپوزيسيون: د خلکو يا سفارشي ؟ (What Type of Opposition: By the People or Based on the Order):

ملي يووالي حکومت کې تر ټولو څخه دي اپوزيسيون په موضوع کې ستونزمنده خبره داده چې د اپوزيسيون تشکيل يې د ولسمشر صلاحيت لاندې راوستلئ ده چې دغه مسله به هرومرو ستونزې ايجاد کوي. په توافقنامې کې داسې راغلي"جمهور رييس د اپوزيسيون د مشرئ مقام ايجادوی او دوهم بريالي شوئ کانديد په ټول ټاکنو کې د خپل په خوښه د موقف اشغال لپاره ټاکي." اوس نو پوښتنه داده چې داسې اپوزيسيون چې خپله ولسمشر يې په خپله صليقه او خوښه ايجاد کړې موثره به وي او دا د حکومت د کړنو څخه به جدي نظارت وشي کړئ، ځکه چې د اپوزيسيون فلسفه داده چې د يو طرفه حکوت باندې جدي نظارت وشي او د بل طرفه يو بديل د نظام د تغيير لپاره چمتو شي.  دغه هاغه دليل دي چې ځيني خلک يې د اپوزيسيون ايجاد په هلکه منفی قضاوت ته هڅولي دي.

**اوس سوال دا ده چې د معترضانو او د منتقدانو د ليست څخه کوم کسان د راتلونکي اپوزيسيون جوړلو لپاره شايستګی لرئ؟  او کوم ډله به اپوزيسيون تشکيل کړي. زما په آند لاندې ګزينې موجودی دي:**

## لومړئ ګزينه: حامد کرزئ او د هغه ټيم (The First Option: Hamid Karzai and The Team) :

داسې وويل کيږي چې حامد کرزئ او د هغه ټيم خوښ دئ چې سياسي اپوزيسيون ايجاد کړي او سياسي مبارزي ته دوام ورکړي. ليکن انديښنه داده چې هغه مشران چې ۱۳ کاله يې د افغانستان سياسی پروسې او نظامونه ايجاد نشوه کړئ، هيواد يې د اداري فساد، دمخدرو توکو په توليد او نا امنې، ناکام حکومتوالي کې مشهور کړو د افغانستان راتلونکي لپاره بيا د رژيم په توګه راتلل يې ګټور به وي که نه او همدارنګ د مسلم اپوزيسيون جوړلو توان به ولري که نه د مکث وړ موضوع ګاڼي دي.

## دوهمه ګزينه: ناراضه جهادی مشران (The Second Option: Disagreed Mujahids)

دوهمه ګزينه داده چې هغه جهادی مشران چې اوسني حکومت څخه بهر پاتي دي او ځانونه د حکومت تشکيل کې نه ګوري غواړي چې اپوزيسيون تشکيل کړي اما سوال داده چې په مجاهدينو باندې چې تجربه شوي ناکامان او جنګي جنايتکاران دي څومره بايد اعتماد وشي او همدارنګه  د هغوي د ظرفيت موضوع هم ستونزمنده ده.

## دريمه ګزينه: د لوئ افغانستان غوښتونکي (The Third Option: The Striver of Great Afghanistan)

د لوئ افغانستان غوښتونکي هغه سياسي ګوندونه او تيمونه دي چې سياسي موقف يې ورځ تر بلې په ښې کيدو دئ. دوئ ځانونو ته افغان نشنلستان (Afghan Nationalists) وايې او جدوجهد کوي چې لوئ افغانستان تشکيل کړي چې ډيره معقوله اجندار هم ده(ځکه لوئ افغانستان يعنې پياوړئ افغانستان) ، اما اصلي خبره دا ده چې  دوی لپاره مبارزه ډيره ستونزمنده ده ځکه چې متحده ايالات او د هيواد اوسني وضعيت کې دغه روحيه په لويې کچه موجوده نده او ډيرې هلقې شتون لري چې نه غواړي لوئ افغانستان تر لاسه شي. دا د ذکر وړ ده چې دوي کافي پياوړي کادرونه لري او د اپوزيسيون جوړلو ظرفيت لري اما بيا سياسي ملاتړ يې تر اوسه  کمزورئ ښکاري.

## څلورمه ګزينه: چپي ګوندونه (The Fourth Option: The Leftists)

هغه ګوندونه چې مخکې هم توانيدلي چې د خلکو په واسطه انقلاب وکړي او همدارنګ سياسي کړنې يې کافي د پام وړ ګرځيدلي دی، هم کولاي شي اپوزيسون تشکيل کړي اما بيا د مجاهدينو، امريکا او  موجوده افغان آيدیالوژي د دغه ډلو ټيلو خلاف ښکاري. د پام وړ خبره داده چې د ملي يووالي حکومت کې دغه هلقې چې کافي متخصصين لري ډير



افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي.  په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په خير و لولئ

لوړ موقفونه ترلاسه کړي دي او د اپوزیسیون د جوړلو ظرفیت هم لري مګر عام ذهنیت او د منطقي سیاست دغه ډلو سره ظاهرآ همغږي نه ښکاري.

## پای لیک (Conclusion):

اپوزیسیون په هر ډموکراتیک نظام کي اساسي نقش ادا کوي او د حکومت د فعالیتونه څخه کولای شي جدي نظارت وکړي او حکومت د غلطي لارې څخه وژغوري اما په افغانستان کي اپوزیسیون ډیره ګټوره تجربه نه ده ثابت شوې. بیا هم لکه څنګه چي پوهیږو رسمي سیاسي اپوزیسیون په ډموکراتیک حکومتونو کي یوه اساسي اړتیا ده ، ایجاد به یې د افغانستان ښه راتلونکي لپاره بې ګټي نه وي.اما بل خوا بیا طالبانو او نورو سیاسی مخالفینو لکه د حکمتیار ډلې د غیر رسمی او مسلح اپوزیسیون ځای خپل کړئ دئ چي موخه یې د حکومت ترلاسه کول او ګواکي اسلامی امارت نافذول دي اما په عمل کي جګړه یې ملکي خلکو ته خورا زیانونه رسولي دي چي د توجیه وړ نه ده. د رسمی اپوزیسیون په هکله  که بحث خلاصه کړو نو داسي وویل به غلط نه وي چي مجاهدین او د کرزي ټیم یا هم مرکب د دغه ټیمونو څخه په ډیر ګمان کي د اپوزیسیون ایجاد باندې لاس پورې کړي. زما په آند د لوئ افغانستان غوښتونکي او چپیان لا تر اوسه هم د اپوزیسیون جوړلو لپاره هغه لازمه تیاري او مصون سیاسي محیط نلري او شرایط ورته آماده نه دي اما په راتلونکي کي وویل کیږي چي دغه ډلي به نور هم کلیدي سیاسی موقفونه ترلاسه کړي او په څو کالو کي به د اپوزیسیون ځائ خپل کړي.  په نهایت کي با داسي وویاو چي  کارپوهان د اپوزیسون د تشکیل په اړه معتقد  په دې دي چي مدني ټولنه، سیاسي ګوندونو او د نړیوالو ټولني اراده د موثره اپوزیسیون د ایجاد لپاره لومړئ شرط دئ ، او وایی چي د یاد عناصرو څخه پرته د اپوزیسیون جوړل به ناقص او بې ګټي وي. لکه څنګه چي مکررآ ذکر شو اپوزیسیون په ډموکراتیک نظامونو کي یوه مبرمه اړتیا ده نو باید په منسجم شکل کي ایجاد شي ترڅو وتوانیږي افغانستان ته خدمت او د افغانستان راتلونکي ډموکراتیک نظام لپاره موثر تمام شي.

**په درناوي**

**استاد محمد ظریف "امین یار"**

**کابل سرطان ۱۳۹۴**

---

Asst .Prof .M. Zarif Aminyar, 2015



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي.  په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ  maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په ځیر و لولئ